# ارګ پاڼه

نهمه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

صاحب امتياز:
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د اړيکې شمېره:
+93 (0) 202100633

ايميل:
info@gmic.gov.af

آدرس:
مرمرينه ماڼۍ، بهرنيو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: رجب المرجب ۱۱، کال ۱۴۴۳ هجري قمري




## د اسلامي امارت د کابينې غونډه دائره شوه

د افغانستان اسلامي امارت د کابينې دوه ويشتمه غونډه د رئيس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند په مشرۍ او د سرپرستو وزيرانو او معينانو په ګډون ترسره شوه.
غونډه د کلام الله مجيد په مبارکو آيتونو پيل شوه، ورپسې د اجنډا سره سم په موضوعات بحث پيل شو. د کابينې لخوا د تيلفوني سيم کارتونو د ثبت او بايوميتريک کولو په اړه د مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوژۍ وزارت غوښتنه تصويب شوه. د مخابراتو وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د احصائيې او معلوماتو له ملي ادارې سره په ګډه د دې پروسې د تطبيق لپاره طرحه جوړه او دا پروسه په تدريجي ډول داسې پيل کړي چې خلک له ستونزو سره مخامخ نه شي. پاتې برخه ۲

## ميدان های هوايی نظامی و غير نظامی کشور دوباره فعال گرديد



مسئولين امارت اسلامی ميگويند که تمامی ميدان های هوايی نظامی و غيرنظامی کشور دوباره فعال شده اند.
محترم لطيف الله حکيمی، رييس کميسيون تنظيم ميدان های نظامی و غيرنظامی، می گويد که به منظور تنظيم بهتر امور، تمامی بخش های ميدان هوايی به دو بخش ملکی و نظامی تقسيم بندی شده است.
در همين حال، امام الدين احمدی، سخنگوی وزارت هوانوردی ملکی، می گويد: از ميدان های هوايی افغانستان خدمات بطور نورمال ارايه می شوند و از ميدان هوايی کابل، پرواز های خارجی و داخلی به گونه منظم انجام ميشوند. پاتې برخه ۲

## اسلامي امارت له ترکمنستان سره د انرژۍ درې اړخيزه تړونونه لاسليک کړل

د افغانستان برېښنا شرکت د ترکمنستان او چاليک کمپنۍ سره د انرژۍ سکټور د ښه والي په هدف درې اړخيزه تړون د لاسليک کړل.
د ياد شرکت د معلوماتو په اساس د شبرغان ـ دشت الوان د ۵۰۰ کيلوولټ مزي کار د پشپړېدو په حال کې ده چې په دې سره به پاتې برخه ۵



## هند له افغانستان سره د نورو روغتيايي درملو مرسته وکړه



هند له افغانستان سره د خپلو بشري مرستو په دوام د درې ټنه نورو روغتيايي درملو مرسته وکړه. په تېرو دريو مياشتو کې له افغانستان سره د هند د بشري مرستو دريمه جوپه ده چې کابل ته رارسيږي. پاتې برخه ۲

## د رياست الوزراء مرستيال د ترکيې سفير سره وکتل




د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په افغانستان کې د ترکيې سفير جهاد ارګين او د هغه هېواد د سرې مياشتې استازي سره په ارګ کې وکتل. پاتې برخه ۵

**موږ د پاکستان په ګډون د سيمې له ټولو هېوادونو سره د متقابل درناوي پر بنسټ نېک او حسنه روابط غواړو چې پکې سوداګريز او ترانزيټي مناسبات ورځ تر بلې پراختيا ومومي.**

محترم مولوي عبدالسلام حنفي
د ا.ا.ا. رياست الوزراء اداري مرستيال

## پاکستان د افغانستان په ۱۸ قلمه صادراتي توکو محصول معاف کړ



د افغانستان او پاکستان د سوداګرۍ او صنايعو ګډې خونې مسئولينو په کابل کې په يو لړ موضوعاتو د بحث پرمهال پاکستان ته د افغانستان په صادرېدونکو ۱۸ قلمه توکو محصول معاف کړ. سربېره پر دې، د افغانستان او پاکستان د سوداګرۍ او صنايعو ګډې خونې په يو شمېر پاتې برخه ۲

## معاون رياست الوزراء با رئيس سازمان صحی جهان برای افغانستان، ديدار کرد

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری رياست الوزراء با ليو دييپنگ رئيس سازمان صحی جهان برای افغانستان و حامد جعفری مسئول پروګرام پوليو اين نهاد در ارګ ديدار نمود.
در اين ديدار، رئيس سازمان صحی جهان برای افغانستان در رابطه به تطبيق برنامۀ صحتمندی معلومات ارائه نموده، ګفت که تاکنون ۲۳۰۰ کلينيک و مراکز صحی تحت پوشش پاتې برخه ۲

**در صورت مشاهده هرګونه خطر و تهديد با شماره (۱۰۰) به تماس شويد!**

قوماندانی امنيه کابل

## نړيوال بانکونه کولای شي افغانستان ته پيسې ولېږدوي



د امريکا د خزانې وزارت په دې وروستيو کې اعلان وکړ چې نړيوال بانکونه کولای شي د بشري موخو لپاره افغانستان ته پيسې انتقال کړي. د رويټرز د خبري آژانس په حواله په افغانستان کې دننه مرستندويه ادارې هم کولای شي د امريکا د بنديزونو له ويرې پرته پيسې انتقال کړي.
د خزانې وزارت دا هم وويل چې مرستندويه ډلو ته اجازه ورکړل شوې چې د پاتې برخه ۲

## د هېواد د ځان بسايني پرلور بايد بنسټيز کارونه ترسره شي

د ا.ا.ا. د رياسة الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ او د ا.ا.ا. د رياسة الوزراء اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د کابينې د غړو، د اقتصادي وزارتونو د مرستيالانو او د دولتي شرکتونو د رئيسانو په ګډون، د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې غونډه جوړه. پاتې برخه ٦

**اسلامي امارت هڅه کوي چې افغانستان د نړۍ د اقتصاد په مرکز بدل شي.**

محترم مولوي اميرخان متقي
د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو سرپرست وزير

## کار پروژه تاپی در بهار پيش‌رو آغاز می شود



کار عملی پروژه تاپی در آينده نزديک آغاز خواهد شد و تمام زمينه‌ها برای عملی شدن آن فراهم شده است.
محترم بلال کريمی، معاون سخنګوی امارت اسلامی می‌افزايد که با ګرم شدن هوا، اين پروژه به ګونه عملی آغاز خواهد شد. پاتې برخه ۲

## د ا.ا.ا رياست الوزراء مرستيال د پاکستان د ملي امنيت سلاکار سره وکتل

د ا.ا.ا رياست الوزراء اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د پاکستان د ملي امنيت سلاکار معيد يوسف او مل پلاوي سره وکتل. دواړو لوريو د سوداګرۍ، ترانزيټ او سيمه ييزو سترو پروژو د تطبيق په هکله بحث او خبرې وکړې.
محترم مولوي حنفي وويل، پاتې برخه ۵

## اسلامي امارت د رسميت پېژندلو په درشل کې

محترم مولوي امير خان متقي وايي چې اسلامي امارت په نړيواله کچه د رسميت پېژندلو په برخه کې ګوتلې ګامونه پورته کړي او دې موخې ته نږدې شوی دی.
د بهرنيو وزارت چارسمبالی فرانسې پاتې برخه ۵

## د اسلامي امارت د کابینې غونډه...

کابینې له معلولینو، یتیمانو او کونډو سره د نقدي مرستو په اړه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت لخوا چمتو شوې طرحه تصویب کړه، د دې طرحې له مخې د اسلامي امارت د شهیدانو یتیمان او کونډې، د پخوانۍ اداري د وژل شویو عسکرو بې سرپرسته ورثه او د افغانستان د څلویښت کلنو جګړو معلولین د میاشتنۍ نقدي مرستې مستحق ګڼل کیږي.

د کابینې په غونډه کې د چارو ادارې عمومي ریاست ته دنده وسپارل شوه، چې د پخوانیو چارواکو هغه کورونه چې بې سرنوشته پاته دي له غصب څخه د مخنیوي په خاطر تحت تأمین کړي.

دغه راز د عالي تحصیلاتو وزارت لخوا د افغان نړیوال پوهنتون د طب، انجنیري او زراعت په برخه کې د فوق لیسانس برنامو لپاره د نصاب جوړولو کړنلاره د کابینې لخوا تصویب شوه.

د کابینې په غونډه کې په نورو موضوعاتو هم بحث او پریکړې وشوې او غونډه په دعاء سره پای ته ورسیده. #

## هند له افغانستان سره د نورو روغتیایي درملو...



د هند د بهرنیو چارو وزارت په یوې اعلامیې کې ویلي چې دغه طبي درمل په کابل کې د اندرا ګاندي روغتون ته سپارل شوي دي.

یاد وزارت ویلي چې هند د افغانستان له خلکو سره د اړیکو دوام او بشري مرستو ته ژمن دی.

هند تر دې مخکې هم د کرونا ضد واکسین ۵۰۰ زره ډوزه او د ژوند ژغورلو اړین روغتیایي درمل افغانستان ته استولي و.

د هند د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې په راتلوونکو اونیو کې به افغانستان ته د روغتیایي موادو ترڅنګ د خوراکي موادو مرستې ولیږي.#

## میدان های هوایی نظامی و غیرنظامی...



به گفته آقای حکیمی، در حال حاضر سه میدان هوایی نظامی به شمول میدان هوایی بگرام، شوراب هلمند، و میدان هوایی شیندند نیز فعال گردیده اند.

از سوی هم شماری از آگاهان از سرگیری فعالیت های میدان های هوای کشور به ویژه میدان های هوایی نظامی را از بهر انجام عملیات های ویژه نظامی و رسانیدن کمک به مردم در حالات اضطرار بسیار مهم میدانند. #



## رسنۍ د اطلاع رسونې موثره وسیله ده

شفافیت او حساب ورکونه د یوه نظام له ښېګڼو څخه ده او اسلامي امارت د یوه مسئول نظام په توګه دې اصل ته ژمن دی. په هېواد کې د اسلامي امارت له حاکمیت سره، د نظام مشرتابه هیئت او مسئولین هڅه کوي چې په نظام کې اړین اصلاحات رامنځته کړي، په دولتي اداراتو کې د فساد ټغر ټول او د اسلام د اصولو پر اساس، داسې نظام جوړ کړي چې پایله یې د افغانستان اقتصادي ځان بساینه او د ولس هوساینه وي.

د اسلامي امارت لید لوری په اوږد مهاله موده کې د افغانستان خودکفایي ده او دې موخې ته د رسېدو لپاره د نظام مشرتابه هیئت او مسئولینو په تېرو شپږو میاشتو کې په سیاسي، اقتصادي، نظامي، ټولنیز او په ټوله کې د حکومتولۍ په برخه کې یو شمېر اساسي اقدامات پیل کړي او هڅه روانه ده چې، په بېلابېلو برخو کې شته ستونزې په اساسي او بنسټیزه توګه حل، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره پر متقابل احترام اړیکې او تعامل رامنځته او د یوه ښه او روښانه راتلونکي لپاره مهم او اغېزمن پروګرامونه او طرحې تطبیق شي.

د دې لپاره چې ولس او نړۍ لاهم د اوسني نظام له لید لوري، پالیسیو او همدارنګه له روان بهیر څخه خبر شي او د بېلابېلو موضوعاتو په اړه کره او پر وخت معلومات تر خلکو او نړۍ ورسیږي، د رسنیو نقش او ونډه مهمه او اړینه ده.

د اطلاعاتو او رسنیو مرکز، تل دا هڅه کړې چې، د رسنیو او حکومت ترمنځ د متقابله همکاریو او تعامل فضا رامنځته کړي، ترڅو له دې لارې د رسنیو نشراتي خلا ډکه او د حکومتي اداراتو کړنې، پالیسۍ او لاسته راوړنې، د رسنیو له لارې ترخلکو ورسیږي.

د اسلامي امارت له حاکمیت سره سم، د اطلاعاتو او رسنیو مرکز د نظام د اطلاع رسونې بهیر د چټک او اغېزمن ساتلو او رسنیو سره د تعامل او همکارۍ د فضا رامنځته کولو په موخه، یو لړ کارونه ترسره کړل. د بېلګې په توګه، د وزارتونو او لویو ریاستونو ویاندویان په مسلکي توګه وروزل شول، ټولو حکومتي اداراتو ته نشراتي لارښود ترتیب کړل شو، د متقابله همکاریو په موخه د رسنیو له مسئولینو او خبریالانو سره غونډې ترسره شوې او هڅه وشوه ترڅو په نشراتي ډګر کې د رسنیو ستونزو ته پروخت رسېدنه وشي.

**د دغو هڅو په پایله کې له نېکه مرغه، په تېرو څلورو میاشتو کې، ۱۷۰۰۰ خبري معلومات د ټولنیزو شبکو له لارې او ۹۰۰ خبري کلیپونه له رسنیو سره شریک شول، ۴۰ خبري کنفرانسونه او ٦۵۰ ځانګړې مرکې ترسره شوې.**

د اسلامي امارت مسئولین په هېواد کې د رسنیو مثبت نقش مهم ګڼي، د دوی له کړنو څخه ملاتړ کوي او هڅه کوي چې د شته قوانینو او کړنلارو په تعدیل او اصلاح سره، د رسنیو فعالیتونه لا اغېزمن او پیاوړي کړي.#

## معاون ریاست الوزراء با رئیس سازمان...

**این برنامه قرار گرفته و از زمان حاکمیت امارت اسلامی، ۵۰۰ متریک تُن ادویه و مواد طبی به افغانستان انتقال یافته و طبق یک میکانیزم واضح به تمام مراکز صحی توزیع شده است.**

**به همین ترتیب، حامد جعفری افزود که تاکنون ۷ میلیون کودک زیر سن پنج سال واکسین پولیو دریافت کرده و متباقی دو و نیم میلیون کودک به زودی واکسین پولیو دریافت خواهد کرد.**

**محترم مولوی عبدالسلام حنفی از فعالیت ها و کمک های سازمان صحی جهان در این وضعیت دشوار به مردم افغانستان، تشکر نمود و اطمینان داد که امارت اسلامی با پروگرام های صحتمندی، پولیو و سایر بخش ها، همکاری کامل می نماید.**

**معاون ریاست الوزراء افزود که ساحۀ زیر پوشش پروگرام صحتمندی باید بیشتر توسعه یابد و امارت اسلامی در خصوص تطبیق بهتر کمپاین پولیو با آن سازمان همکاری همه جانبه خواهد نمود.**

**محترم حنفی از سازمان صحی جهان خواست تا کیت های تشخیص کرونا و تسهیلات لازم برای تداوی افراد مصاب به سرطان را فراهم سازد. #**

## پاکستان د افغانستان په ۱۸ قلمه صادراتي...

نورو موضوعاتو لکه، د افغانستان او پاکستان د صادراتو او وارداتو د برېښنایي فورمې شرط ختمولو، په بارتر توګه د سوداګرۍ ترسره کولو، د پانګونې لپاره د دواړو هېوادونو د شرایطو اسانه کولو، د هېواد کرنیز سیستم عصري کولو، په کراچۍ بندر کې افغان مالونو ته هر اخیزه اسانتیاوې برابرولو، او همدارنګه د ټرکونو د تګ او راتګ لپاره یو مشخص میکانیزم په جوړولو، توافق وکړ.

په هېواد کې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته دا لومړی ځل وو چې د افغانستان او پاکستان د سوداګرۍ او صنایعو ګډې خونې مسئولین په کابل کې ناسته وکړ او د شته ستونزو د هوارولو په اړه یې لازم تصامیم اتخاذ کړل. #

## نړیوال بانکونه کولای شي افغانستان ته...

بشري عملیاتو لپاره نغدي پیسې افغانستان ته انتقال کړي او کولی شي د روغتیایي کارمندانو او ښوونکو معاشونه ورکړي.

تر دې مخکې د ناروې د کډوالو شورا ویلي وو، چې پر افغانستان لګول شوي اقتصادي محدودیتونو مرستندویه موسسو ته له بهر څخه افغانستان ته د پیسو لیږد او حتی په افغانستان کې دننه له یوه ځای څخه بل ځای ته د پیسو لیږد ناممکن کړی دی. د ناروې د کډوالو د شورا په وینا، دې محدودیت په میلیونونو خلک د اړتیا وړ مرستو ته د لاسرسي څخه بې برخې کړي دي. #

په دې کتنه کې د ترکیې سفیر وویل: له افغانانو سره د ترکیې بشري مرستې د دوست او ورو هېواد په توګه دوام کوي.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي د ترکیې دولت او خلکو له لوري د بشري مرستو مننه وکړه او د رارسېدونکو مرستو او په شفاف ډول د هغو د ویش په اړه یې د اسلامي امارت د بشپړې همکاریو ډاډ ورکړ.

هغه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو زیاتېدو غوښتنه وکړه او زیاته کړه چې اسلامي امارت دوه اړخیزه همکاریو ته ژمن او لېواله دی.

محترم مولوي حنفي وویل، په ټول افغانستان کې سراسري امنیت د پانګونې ښه زمینه برابره کړې او موږ ترکي پانګه والو ته بلنه ورکوو چې په افغانستان کې په مختلفو برخو کې پانګونه وکړي.#

## د ریاست الوزراء مرستیال د مدافع وکیلانو خپلواکې ټولنې غړو سره وکتل

د ا.ا.ا. د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د افغانستان د مدافع وکیلانو خپلواکې ټولنې غړو سره په سپېدار ماڼۍ کې وکتل.

په دې کتنه کې د مدافع وکیلانو ټولنې سرپرست مولوي محمد مصطفیٰ محمدي او د دې ټولنې غړو د مدافع وکیلانو د امنیت، کاري ستونزو او کاري جوازونو په اړه خپل وړاندیزونه او غوښتنې شریکې کړې.

د ریاست الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د هغوی ستونزې او غوښتنې واورېدې او ډاډ یې ورکړ چې د دوی ستونزو ته به پوره توجه کیږي.#

## با گرم شدن هوا، پروژه تاپی به گونه عملی آغاز می شود.

**محترم بلال کریمی، معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان**

## د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د اوسلو غونډه له لاسته راوړنو ډګه ګڼي



د بهرنیو چارو سرپرست محترم مولوي امیرخان متقي د اوسلو غونډه له نړیوالو سره د کابل د اړیکو د ښه والي لپاره مهمه بللې ده. د نوموړي په وینا، اسلامي امارت هڅه کوي چې افغانستان د نړۍ د اقتصاد په مرکز بدل شي.

د اوسلو له غونډې وروسته د بهرنیو چارو وزارت سرپرست دغه غونډه د افغانستان لپاره مهمه او له لاسته راوړنو ډکه وبلله.

ښاغلي مقتي په دې هکله وویل: له افغان شخصیتونو، د اروپایي هېوادونو او د امریکا له استازو سره مو ښې غونډې لرلې او د نورو هېوادونو له استازو سره هم، په بېلابېلو موضوعګانو خبرې وکړې. موږ غواړو چې افغانستان د اقتصاد او مفاهمې د نښلون مرکز وي او هڅه کوو چې افغانستان په راتلوونکو کې له ستونزو لیرې وساتو.

د ناروې لومړی وزیر یوناس ګار استوره وایي: موږ دا په افغانستان او له دغه هېواده بهر افغان فعالینو ته شونې کړه چې، له هغو کسانو سره کېني چې، دم ګړۍ په افغانستان کې ټول واک یې په لاس کې دی. #

## کار پروژه تاپی در بهار پیش‌رو...



از سویی هم، برخی از آگاهان مسایل اقتصادی می گویند که با عملی شدن پروژه تاپی، زمینه کار برای نزدیک به دوازده هزار تن در افغانستان فراهم خواهد شد.

افغانستان نقش ترانزیتی در پروژه انتقال گاز ترکمنستان به پاکستان و هند دارد و قرار است حدود چهار صد میلیون دالر سالانه به افغانستان از این رهگذر برسد و زمینه کار به دوازده هزار تن نیز در کشور فراهم شود.

این در حالیست که مقام‌های ترکمنستانی در دیدار های اخیر شان با هیئت رهبری و مسئولین امارت اسلامی ابراز خوشبینی کردند تا کار پروژه تاپی در بهار سال آینده آغاز شود. #

## جلسه اداری ریاست الوزراء تدویر یافت

جلسه اداری ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی دائر گردید.
در این جلسه، موضوعات مختلف از جمله تعیین معاش نماینده افغانستان در سازمان ایکائو و سهمیه معاشات امتیازی وزارتخانه‌ها به بحث گرفته شد و همچنان اجرای معاشات کارمندان کمیسیون مستقل نظارت بر قانون اساسی طبق نرم جدید و معاشات کارمندان وزارت خارجه که در خارج از کشور وجود دارند طبق نرم گذشته تأیید گردید.
همچنان در جلسه بر ایجاد کمیته ملی متشکل از وزارت های صنعت و تجارت، هوانوردی و ترانسپورت، امور داخله و خارجه و همچنان بر ایجاد کمیته دیگری برای حل مشکلات در امتداد خط دیورند، توافق صورت گرفت. علاوه بر این تشکیل کمیسیون مبارزه علیه فساد، مقروضیت افغان پست، شرکت برشنا و افغان تیلیکام به بحث گرفته شد و تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

## اسلامي امارت له ترکمنستان سره د انرژۍ درې اړخیزه...

له ترکمنستان څخه کابل او نورو ولایتونو ته ډاډمنه برېښنا ولېږدول شي.
د یادونې ده چې افغانستان دا مهال ۷۰ سلنه برېښنا له ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، او ایران څخه واردوي، او همدارنګه د خپلې اړتیا وړ ۳۰ سلنه نوره برېښنا له خپلو داخلي منابعو څخه تولیدوي. #

**موږ د خدای په مرسته جهادي بهیر کامیاب کړ اوس به تر ټولو ښې حکومت دارۍ کې دبري لوري ته لاهم متین ګامونه اخلو هیواد مو خپل، ولس مو خپل او اراده به مو هم خپله وي ټول افغانان یو دبل ورونه یو او هیواد به هم په ګډه ابادوو.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

## د ا.ا.ا ریاست الوزراء مرستیال د پاکستان د ملي امنیت...

افغانستان او پاکستان دوه ګاونډي او ورونه هېوادونه دي چې تاریخي، دیني او د وروري مناسبات لري.
موږ د پاکستان په ګډون د سیمې له ټولو هېوادونو سره د متقابل درناوي پر بنسټ نېک او حسنه روابط غواړو چې پکې سوداګریز او ترانزیټي مناسبات ورځ تر بلې پراختیا ومومي.
محترم مولوي حنفي د سترو سیمه ییزو پروژو په ځانګړي ډول د تاپي، ټاپ، کاسا زر او اوسپنې پټلۍ پروژو پر تطبیق ټینګار وکړ وې ویل، د ا.ا پالیسي واضح ده او هیچا ته د دې اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د ګاونډیو او نورو هېوادونو پر ضد وکارول شي.
د پاکستان د ملي امنیت سلاکار معید یوسف په خپلو خبرو کې وویل، پاکستان د افغانستان د خلکو تر څنګ دی او په دې برخه کې به خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. نوموړي زیاته کړه، د اقتصادي روابطو له تعمیق پرته سوله او ثبات نه راځي او زموږ لپاره د سوداګریزو او ترانزیټي روابطو پراختیا مهمه ده.
معید یوسف وویل، پاکستان د سترو سیمه ییزو پروژو تطبیق ته ژمن دی او باید د دواړو هېوادونو د خصوصي سکتور پلاوي ایجاد او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د روغتیا، پوهنې، سوداګرۍ، کانونو او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخو کې د اړیکو پر پراختیا خبرې وکړي. #

**با تطبیق پروژه تاپی، برای هزاران تن فرصت های شغلی فراهم می شود.**

## جلسه کمیسیون تنظیم تشکیلات برگزار گردید

جلسه کمیسیون تنظیم تشکیلات به ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی دائر گردید. در این جلسه، تشکیل وزارت ترانسپورت و اداره هوانوردی به بحث گرفته شد و در نتیجه؛ سقف تشکیل وزارت متذکره با درنظرداشت ضروریات و جهت‌های کاری آن منظور شد.
به منظور جلوگیری از تورم تشکیلاتی، ساحات مسلکی و ارائه خدمات معیاری به ادارات فوق هدایات لازم داده شد. مسئولین ادارات نامبرده بر تطبیق هدایات فوق تعهد سپردند. #

**تاکنون هفت میلیون کودک زیر سن پنج سال واکسین پولیو دریافت کرده اند.**

حامد جعفری مسئول برنامه پولیو در افغانستان

## اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو په...

رسنۍ سره په خپله مرکه کې ویلي چې نړیواله ټولنه اسلامي امارت سره د تعامل په هڅه کې ده او د اسلامي امارت مشرتابه دوی ته ډاډ ورکړئ چې بهرني هېوادونه کولای شي خپل سیاسي نماینده ګۍ په کابل کې پرانیزي.
د نوموړي په وینا: د رسمیت پېژندلو په برخه کې، هغه تفاهم او خبرې چې موږ تر اوسه د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره درلودې ښې پایلې یې لرلې او موږ خپل هدف ته نږدې شوي یو. ښاغلی متقي زیاتوي چې یو شمېر هېوادونو خپل سفارتونه په کابل کې بېرته پرانیستي او په نږدې راتلونکي کې به یو شمېر نور هېوادونه هم ورته اقدام وکړي.
ښاغلی متقي دغه څرګندونې په اسلو کې د امریکې او اروپايي هېوادونو له یو شمېر استازو سره له ناستو او د ناروې سفر وروسته کړې دي. #

## د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د ستونزو د هوارۍ لپاره د کمېټې جوړېدل

اسلامي امارت وايي چې د ډیورند کرښې په اوږدو کې د ستونزو د هوارۍ لپاره به یوه ځانګړې کمېټه جوړه شي. چارواکي وايي له پاکستاني لوري سره به د خبرو لپاره په دغې جوړېدونکې کمېټه کې د بیلابیلو وزارتونو استازي شامل وي.
د پاکستان د اطلاعاتو وزارت اعلان کړی دی چې، دواړو لورو هوکړه کړې ده، په سرحدي سیمو کې د اسانتیاوو د برابرولو لپاره یوه تګلاره جوړه کړي.
همدارنګه، کابل کې د محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د ریاست الوزار په اداري غونډه کې، د ډیورنډ د فرضي کرښې په اوږدو کې پر ستونزو د ښه غور لپاره له څو وزارتونو جوړې دیوې کمېټې پر رامنځته کېدو هوکړه وشوه.
د اسلامي امارت د ویاند مرستیال انعام الله سمنګاني څرګندوي: د کمېټې له جوړېدو موخه د ډریونډ کرښې په اوږدو کې د تفاهم له لارې د ستونزو حل او امنیتي مسایلو ته رسېدنه ده. #

## خواست سناتوران آسترالیایی برای افزایش کمک به مردم افغانستان



طبق گزارش روزنامه گاردین، شماری از سناتوران خواستار کمک فوری به ۱۳ میلیون کودک در افغانستان شدند. آنها از دولت آسترالیا می خواهند به مقدار کمک‌های بشردوستانه خود به مردم افغانستان بیافزاید.
این در حالی است که دولت آسترالیا سال گذشته برای کمک به مردم افغانستان ۱۰۰ میلیون دالر تعهد کرده بود که از این میان، ۵۲ میلیون دالر آن در بخش ارائه کمک های بشردوستانه به مصرف رسیده است. #

## مایکل کیټنګ: په لوږه او انزوا کې د افغانانو پرېښودل د هیچا په ګټه نده

د افغانستان لپاره د بریتانیې پخواني ځانګړي استازي مایکل کیټنګ د سکای نیوز سره په خپله وروستۍ مرکه کې وايي چې په دې سختو شرایطو کې د افغانانو یواځې پرېښودل، نه د سیمې د هېوادونو او نه هم د نړیوالې ټولنې په ګټه دي، ځکه دغه کار به د اقتصادي ناورین ترڅنګ د ډېرو خلکو د بې ځایه کېدو او د مهاجرت د زیاتېدو سبب شي.
د کیټنګ په وینا د افغانانو د اړینو اړتیاوو د پوره کولو ترڅنګ باید د افغانستان اقتصاد فعال وساتل شي.
دا په داسې حال کې ده چې ملګرو ملتونو په دې وروستیو کې له افغانستان سره د ۵ میلیاردو ډالرو مرستو غوښتنه وکړه چې دا د یوه هېواد لپاره د بشري مرستو تر ټولو لویه غوښتنه ده.
د اټکل له مخې د افغانستان د نفوس ۹۰ فیصده چې ۳۸ میلیونه خلک کیږي په مرستو باندې تکیه کوي، ملګري ملتونه وايي په دغې شمیرې کې ۳ میلیونه هغه کورني بې ځایه شوي هم شامل دي چې د وچکالۍ او قحطۍ له امله په وروستیو کلونو کې بې ځایه شویدي.
د خوړو نړیوال پروګرام د معلوماتو په اساس په افغانستان کې له خلکو سره د مرستې لپاره دوه اعشاریه شپږ میلیارده امریکایي ډالرو ته اړتیا ده. #

## د ریاست الوزراء مرستیال د ترکیې سفیر...

په دې کتنه کې د ترکیې سفیر وویل: له افغانانو سره د ترکیې بشري مرستې د دوست او ورو هېواد په توګه دوام کوي.
محترم مولوي عبدالسلام حنفي د ترکیې دولت او خلکو له لوري د بشري مرستو مننه وکړه او د رارسېدونکو مرستو او په شفاف ډول د هغو د ویش په اړه یې د اسلامي امارت د بشپړو همکاریو ډاډ ورکړ.
هغه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو زیاتېدو غوښتنه وکړه او زیاته کړه چې اسلامي امارت دوه اړخیزه همکاریو ته ژمن او لیواله دی.
محترم مولوي حنفي وویل، په ټول افغانستان کې سراسري امنیت د پانګونې ښه زمینه برابره کړې او موږ ترکي پانګه والو ته بلنه ورکوو چې په افغانستان کې په مختلفو برخو کې پانګونه وکړي.#

## د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ګډې کمېټې جوړېدل

اسلامي امارت مسئولین وايي چې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګرۍ زیاتوالی د پاکستاني پلاوي سره د کتنې د اجنډا یوه برخه وه.
د اسلامي امارت د ویاند مرستیال محترم انعام الله سمنګاني وايي: د ویزې او پانګونې لپاره د ښو فرصتونو برابرولو په اړه د دواړو هېوادونو د پلاوو ترمنځ هر اړخیزې خبرې وشوې.
ورته مهال د اسلامي امارت د ویاند مرستیال محترم بلال کریمي څرګندوي چې د سوداګرۍ په برخه کې د اسانیتاوو پر رامنځته کېدو هم مهمې خبرې شوي دي.
د افغانستان او پاکستان د سوداګرۍ ګډه خونه وايي، پاکستاني پلاوي ژمنه کړې ده چې د افغانستان پر اتلس ډوله صادراتي توکو لګول شوی ګمرکي محصول معاف کړي. #

## هند په روان میلادي کال کې دوه میلیارده هندۍ کلدارې افغانستان ته ځانګړې کړې دي



د هند حکومت د ۲۰۲۲ زېږدیز کال بودجه کې د افغانستان لپاره دوه میلیارده هندۍ کلدارې ځانګړې دي دي. دغه دوه میلیارده هندۍ کلدارې به د هند په پخوانیو پروژو، سکالرشیپونو او له افغانانو سره په مرسته به مصرفیږي. سربېره پردې د هند حکومت یو میلیارد هندۍ کلدارې د چابهار بندر پروژې ته هم ځانګړې کړې دي. #

**اسلامي امارت د رسنیو د هر سالم انتقاد ملاتړ کوي او رسنۍ باید له شائعه افګنیو څخه ډډه وکړي.**

محترم ذبیح الله مجاهد، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د ا.ا.ا. ویندوی

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با معاون هماهنگی کمک های بشری ملل متحد

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء امارت با فران ایکوزا معاون هماهنگی کمک های بشری ملل متحد و هیئت همراه اش، دیدار نمود.
در این دیدار که در ارگ انجام شد و خانم مری الن مگروتی رئیس ادارهٔ جهانی غذا (WFP) در افغانستان نیز حضور داشت، هر دو جانب در مورد هماهنگی بیشتر بخاطر رسانیدن کمک های بشری به افغانستان، بحث و تبادل نظر کردند.
در این دیدار فران ایکوز گفت که تلاش ها به هدف رسیده گی به افراد نیازمند ادامه دارد و نیاز است تا در زمینه تسهیلات بیشتر فراهم گردد. وی از تامین امنیت سرتاسری و همکاری مسئولین امارت اسلامی در امر رسانیدن کمک ها به افراد بی بضاعت ابراز امتنان کرد.
به همین ترتیب، مری الن مگروتی خواستار همکاری بیشتر امارت اسلامی از روند توزیع کمک های بشری آن سازمان به افغانستان و تشریک مساعی بیشتر با ادارات ذیدخل شد.
سپس، محترم مولوی عبدالسلام حنفی ضمن سپاس از همکاری های بیدریغ آنان در خصوص رسیده گی به افراد نیازمند در کشور گفت که پالیسی امارت اسلامی این است تا کمک های بشری به گونه شفاف و درست به مردم رسانیده شود و بخاطر هماهنگی بیشتر کمک های بشری وزارت پلان طرزالعملی ترتیب کرده که بر مبنای آن کمک ها به گونه شفاف و بدون تبعیض به مستحقین توزیع خواهد شد.
وی افزود که امارت اسلامی متعهد به فراهم کردن شرایط لازم و تامین امنیت کارمندان سازمان های بین المللی در کشور است. #


ارګ پاڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز



**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
**د اړیکي شمېره:** +93 (0) 202100633
**ایمیل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرینه ماڼی، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان

## کمک ۷۵۰ تُن مواد اولیه و ادویه ترکیه به مردم افغانستان



محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با جیهاد ارگین آی سفیر ترکیه و نماینده‌ی هلال احمر ترکیه، در کابل دیدار کرد.
آقای جیهاد ارگین آی گفت ۷۵۰ تن کمک‌های بشردوستانه که به خواست رییس‌جمهور رجب طیب اردوغان جمع آوری شده و شامل مواد غذایی، ادویه و دیگر مواد ضروری است، ظرف چند روز از راه ایران و ترکمنستان به افغانستان می‌رسد و توسط سره میاشت افغانی در ۳۴ ولایت افغانستان به‌گونه شفاف توزیع می‌شود.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی با ابراز امتنان از کمک‌های بشردوستانه دولت و مردم ترکیه، از همکاری کامل امارت اسلامی در رساندن کمک‌ها و توزیع شفاف آن اطمینان داد. وی همچنان بر دوام کمک ها و تحکیم هرچه بیشتر روابط بین دو کشور تاکید ورزید. #

## دیدار معاون ریاسة الوزراء با نماینده خاص ملل متحد برای افغانستان

محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء با خانم دیبورا لاینس نماینده خاص ملل متحد برای افغانستان، دیدار کرد.
در این دیدار، دیبورا لاینس از همکاری بیدریغ امارت اسلامی با سازمان ملل متحد ابراز امتنان کرده افزود که اخیراً در عرصه های صحت، معارف و بانکداری پیشرفت های خوبی صورت گرفته و سازمان ملل متحد به همکاری هایش در زمینه ادامه خواهد داد. وی ضمن استقبال از بازگشایی پوهنتون ها و مکاتب به روی دختران در بهار پیشرو گفت که اتحادیه اروپا بخاطر بهبود وضعیت معلمان مبلغ ۵۰ میلیون یورو کمک می کند و تلاش ها برای جمع آوری ۴،۴ میلیارد دالر کمک های بشری با مردم افغانستان جریان دارد.
سپس، محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء از تلاش های نماینده خاص سازمان ملل متحد در خصوص جلب کمکها، دوام همکاری های بشردوستانه با افغانها و ارائه تصویر مثبت افغانستان به جهانیان اظهار سپاس و قدردانی نمود و خواهان تداوم کمک های بشردوستانه با مردم افغانستان شد. #



**د شبرغان ـ دشت الوان د ۵۰۰ کیلوولت مزي کار د پشپړېدو په حال کې ده.**

د افغانستان برېښنا شرکت

## امریکا: نړیوال بانکونه کولای شي افغانستان ته پیسې ولېږدوي



د امریکا د خزانې وزارت په دې وروستیو کې اعلان وکړ چې نړیوال بانکونه کولای شي د بشري موخو لپاره افغانستان ته پیسې انتقال کړي. د رویټرز د خبري آژانس په حواله په افغانستان کې دننه مرستندویه ادارې هم کولای شي د امریکا د بندیزونو له ویرې پرته پیسې انتقال کړي.
د خزانې وزارت دا هم وویل چې مرستندویه ډلو ته اجازه ورکړل شوې چې د بشري عملیاتو لپاره نغدي پیسې افغانستان ته انتقال کړي او کولی شي د روغتیایی کارمندانو او ښوونکو معاشونه ورکړي.
تر دې مخکې د ناروې د کډوالو شورا ویلي وو، چې پر افغانستان لګول شوي اقتصادي محدودیتونو مرستندویه موسسو ته له بهر څخه افغانستان ته د پیسو لېږد او حتی په افغانستان کې دننه له یوه ځای څخه بل ځای ته د پیسو لېږد ناممکن کړی دی.
د ناروې د کډوالو د شورا په وینا، دې محدودیت په میلیونونو خلک د اړتیا وړ مرستو ته د لاسرسي څخه بې برخې کړي دي. #

## د هېواد د ځان بساینې پرلور باید بنسټیز کارونه...

په دې غونډه کې، د ریاسة الوزراء مرستیال اقتصادي محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ټولو ګډونوالو څخه په منني، په هېواد کې د بې وزلۍ د لا زیات کمېدو او اقتصادي وضعیت د ښه والي په هکه خبرې وکړي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې په تېرو شلو کلونو کې د نړیوالې ټولنې مرسته شوې پیسې د مشخصو کسانو جیبونو ته لوېدې چې، له همدې امله افغانستان ځانبسیاینې ته ونه رسېد. نوموړي زیاته کړه: دا زموږ ټولو مسئولیت دی چې د اقتصاد د ودې او د خلکو د سوکالۍ لپاره زیار وباسوو. موږ باید کار وکړو چې په هېواد کې د بې وزلۍ کچه ټیټه شي او د خلکو لپاره کاري فرصتونه رامنځته شي.
همداراز، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې غونډه کې د پانګوالو ته د قانوني آسانتیاوو پر رامنځته کولو ټینګار وکړ. نوموړي ټولو اړونده اداراتو ته لارښوونه وکړه چې د هېواد د اقتصاد د پرمختګ لپاره، خپل لنډمهالي او اوږدمهالي پلاونه ترتیب او له یاد معاونیت سره یې شریک کړي.
ورپسې، د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي یاده غونډه یې د هېواد د اقتصادي ودې لپاره اړینه وبلله او وې ویل چې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته په ټولو دولتي اداراتو کې د فساد کچه صفر ته راټېټه شوې ده. ښاغلي حنفي زیاته کړه: موږ د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره په بشپړه توګه د خصوصي سکټور ملاتړ کوو چې زموږ ملي سوداګر وکړای شي هېواد کې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي. محترم حنفي د عوایدو په اړه وویل چې په تېر حکومت کې د فساد له امله پنځوس سلنه ګمرکي او مالیاتي عواید حیف و میل کېدل خو د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته اوس له هرې سرچینې عواید په شفاف ډول راټولیږي.
د غونډې په لړ کې، د کانونو او پټرولیم وزیر محترم شیخ شهاب‌الدین دلاور د یادې غونډې پر اهمیت خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې افغانستان د کانونو له پلوه غني هېواد دی او اسلامي امارت هڅه کوي چې په ښه ډول دغه کانونه استخراج او د هېواد په اقتصادي بیارغونه کې ترې کار واخلي.
په پای کې د غونډې ګډونوالو پر یو شمېر موضوعاتو هم خبرې وکړې. #

**په افغانستان کې په نشه یي توکو ۵ میلیونه روږدي کسان چې یو میلیون یې ښځې او ماشومان دي، درملنې او کارموندنې ته اړتیا لري. ا.ا. د هغوی د راټولولو او درملنې په برخه کې اقدام کړی، خو د بین المللي ټولنې او په ځانګړي ډول د ترکیې سرې میاشتې همکاریو ته اړتیا ده.**

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء اداري مرستیال،
محترم مولوي عبدالسلام حنفي


**که موږ او تاسې په ګډه همکاري وکړو، دغه اقتصادي بحران به پای ومومي او له دې مشکلاتو به ووځو.**

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء
محترم ملا محمد حسن اخوند

**کرنه او کانونه د اسلامي امارت د لید لوري په لومړیتوبونو کې قرار لري او موږ هڅه کوو چې په هېواد کې کرنیز سیستم عصري او د کانونو او برېښنا په سکتور کې پانګونه جذب کړو.**

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء اقتصادي مرستیال
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

## د دې ګڼې انځور



### طاق ظفر

طاق ظفر یک طاق پیروزی است که در باغی در ولسوالی پغمان ولایت کابل موقعیت دارد. طاق ظفر، نماد یادگاریست که پس از جنگ سوم افغان-انگلیس و بدست آوردن استقلال افغانستان در سال ۱۲۹۸ هجری شمسی (۱۹۱۹ میلادی) از سوی شاه امان الله خان اعمار گردید.
طاق ظفر شامل دو بنای سفید از جنس مرمر میباشد که از آن بعنوان شیر دروازه یاد میشود و هر دو در یک محوطه قرار دارند.
طاق ظفر، در پارک به مساحت ۱۰۰ متر و با ارتفاع ۱۴ متر به شکل دروازه اعمار گردیده است.
بر سقف کمان مانند و دیوار های طاق ظفر، نام ها و رقم های زیادی به چشم میخورد که روی سنگهای این بنای تاریخی حکاکی شده است. این ها اسامی کسانی است که با خون خود استقلال افغانستان را بدست آورده اند و به گونه یادگار روی این بنا ثبت گردیده اند تا در تاریخ افغانستان ماندگار بمانند.
به گفته تاریخ دانان کشور، بعد از شکست بریتانیا در سال ۱۹۱۹ میلادی، هر سال جشن استقلال افغانستان برای یک هفته در همین مکان تجلیل می شد.